لیکوال : شهسوار سنگروال

## د وړانګو جنازې که د وړانګو ځولۍ؟!

د شعر ګلڅانګو په خپل تنکي او پیمخي پسرلي کې تل د وږم او بزم رنګیني غوټۍ د نسیم په وزرو تخنولي دي او یو د بل پسې یې د زړه راښکونکي ګلبڼ ښېرازه لمن ښکلې کړې ده .
دا دی د شعر ګل لښتو پخپله تومنه کې د شعر یوې بلې غوټۍ ته سا ورکړه ګل شوه او غوړېده .
د شعر همدغه ټولګه یادوم چې په تندي یې کښل شوي دي : ,, د وړانګو جنازې ،، .
دا درې لسیزې کیږي چې د افغانستان ناخوالو هر څه په مخه کړي دي او د روانو پېښو تت سیورې په مادي او معنوي ارزښتونو پروت دی نو ځکه خو شاعران هم د خپل هنري نوښت په تندي داسې سرلیکونه کاږي چې کله ناکله د خپلې لیکنې له مینځپانګې سره توپیر لري .




په دې وروستیو کې د ,, وړانګو جنازې ،، وېناوال ، شاعر او لیکوال ښاغلي نوازادی صاحب د خپلو شعرونو ټولګه ماته را لیږلې ده . خدای شته چې ټوله ټولګه مې سر تر پایه ولوستله او یو څه یادښتونه مې ترې هم راپورته کړل .
وینا وال د سریزې په توګه څو خبرې هم کړي دي او په پلکوریکو اولسي کیسو او نکلونو هم غږېدلي دي . خو د خاطرو ببلګې یې خوږې او په زړه پورې دی .
د شاعر له سریزې وروسته مو سترګې په هغه شعر لګیږي چې سرلیک یې دی ,, زما شعر ،، د دې شعر بڼه او مینځپانګه د پام وړ ده . کلام یې کله قافیه وال او کله هم د ازاد شعر په بڼه کښل شوی دی او ان دا چې د سپین شعر بېلګې پکې هم تر سترګو کیږي .
زما د دې خبرې موخه دا ده ، شعر چې په هره بڼه وي خو که شعري ارزښت د تخیل ښکلاییزه وړتیا , عاطفي رنګ , هنري خوند او د شعر نورې سنتي ځانګړتیاوې ولري د ستاینې او خوښونې وړ دی .
کله چې د کتاب پاڼه اړوو د لومړۍ برخې لومړی شعر مو مخې ته راځي چې یو ډول بېت یې د بېلګې په توګه را اخلو :

په دار کې رانه څله د وفا امتحان اخلې
رسۍ مې مچه کړې غوڅه کړې خو مې نه ده

پدې شعر کې څه ښکلې انځور تر سترګو کیږي هغه هم د یوې لېونۍ مینې د ,, امتحان ،، تصویر چې د مینې منصور د دار په تخته ولاړ دی او پخپل اشنا غږ کوي چې ته لا اوس هم لمانه د وفا ازموینه اخلې؟!
یا دا څو بېلګې :

چې د شونډو په سکروټه شونډې وسوې
له هغه ګړۍ نه پورې په زړه اورسو

د خمار د ما تېدو هیله تازه سوه
چې په شونډوکې مې جام دمینا ولید

د توبي نوم لا ترخولي وتلی نه وو
شونډو ست راته د ډکو پيالو وکړ

د لومړئ برخي په شعرونو کي د ښو شعرونو په څنګ کي يو شمېر نور داسي شعرونه هم لولو چي ماته د تامل وړ دي . د ساري په ډول دا يو شعر :

پسرلی وو ، نیمه شپه وه
شبنم ګل غېږ کي ویده وو
د سپوږمي ځوارلس شپي تېري
اسمان صاف لکه ښیښه وو (۲۴مخ تر پایه)

که څه هم اړینه نده چي په یوه شعري ټولګه کي دي ټول شعرونه یو وي لکه څنګه چي په یو ګلبڼ کي رنګارنګ ګلان او ګلبوټي راټوکيږي دا رنګه په شعري جونګ کي هم راز راز شعرونه وي خو زه په دغه سپارښتني ټینګار کوم که ځوک غواړي دا ډول شعري ټولګي چاپ ته وسپاري غوره به وي چي د شعرونو غورچاڼ ته پاملرنه وکړي او که غواړئ د خپلو شعرونو کليات خپاره کړئ بیا نو هرومرو په کار دی د هر پړاو شعرونه چي د شاعر د شاعرانه تخيل د ژوند يو ټاکلی زمان په ګوته کوي له يوې مخي چاپ کړي .

نوزادي صاحب له قافيه والو شعرونو پرته ازاد شعرونه هم په دغه کتاب کي کښلي دي . راواخله دغه يو شعر د ساري په ډول کاږو :

يو ځو کلونه،

له دې نه وړاندې
ښکلی موسم وو
د پسرلي د ګلو
زه او دا دواړه وو ناست
د يو ګلبوټي لاندې (۴۰مخ دا شعر تر پايه)

د شاعر يو شمېر ازاد شعرونه ښکلي او په زړه پورې دي او د شاعرانه تخيل ښکلي او زړه راښکونکي انځورونه يي د شعر په ټټر ټومبلي دي .

ويل کيږي چي ( ويليام بليک ) د ازاد تخيل پلوی وو نوموړي به د همدې شاعرانه تخيل په ځواک او واک د څښتن تعالی له پرښتو سره خبرې اترې کولي . همداراز د فرانسي سورريالستانو ته په شعر کي وزن او قافيه د پام وړ نه وه ان دا چي ( ارتور رمبو ) ازاد شعرونه دومره دود کړل چي له ده څخه وروسته د ده نورو پلويانو هم ددغه شعري بهير يون وپاله.

د ,, وزن ،، خبره ياده شوه او د ,, قافيي ،، خبره هم . قافيه د شعر اصلي رکن نه دی خو وزن د ازاد شعر لپاره د ,, خج ،، په بڼه چي په سر کي په کومه ,, هجا ،، پيليږي بايد تر پايه پورې وپالل شي ضرور او اړين دی . ولي د سپين شعر ځانګړنه بل رنګ او خوند لري .

که چيري موږ د ( دانته ) او( شکسپير) نوښتونو ته تم شو ګورو چي دانته ېخپل چاپېريال کي کوم څه چي ليدلي نو هغه يې د شاعرانه تخيل د واک او ځواک په زور تولني ته داسي ور په ګوته کړي چي اوس هم د نوموړي څرګندوني په نړۍ کي وړ ځای لري . را واخله ,, کمېډي الهی ،، اثر چي د هغه مهال ناخوالي يې هنري نوښت سره رانغاړلي دي . شکسپير بيا د دانته د ليکنو په توپير د خپلو ليکنو يو ښپير انځور د هنر په بله بڼه کښلی دی .
که چېرې د دواړو سترو شاعرانو د ليکنو چاپېريال وڅېړو د دوی د ليکنو بڼه او منځپانګه توپير لري خو دې دواړو ادبي شخصيتونو په بېلابېلو لارو خپل ادبي شهکارونه انساني ټولنې ته وړاندې کړي دي .

د ,, ورانګو جنازې ،، په شعري غونډ کي که قافيه وال شعرونه دي او يا هم ازاد شعرونه د شعرونو هره بڼه يې خپل ځاي لري .

ژړا ته پيدا سوی يم خندا کله راځي
په وچو سپېرو شونډو مي موسکا کله راځي     (۵۰ مخ)

يادا چي :

د ګڼ ځنګله دونو مينځ کي
د پسرلي تنکيو څانګو باندې
د مازديګر پلوشو ،
خپلو زرينو امېلونو سره
د واده شپې دپاره
د طبيعت ناوې سينګار سينګار کړه     (۵۴ مخ)

هر شاعر چي د شعر په هره بڼه شعر کاږي پکار دی چي د شعر په تخنيکي او سنتي ځانګړتياو وپوهيږی .
د مثال په توګه که ازاد شعر ليکي شاعر بايد پدې وپوهيږي چي په لومړی کرښه کي خج يا فشار په کومه هجا راغلی دی , بايد له سرنه ترپايه د شعر دغه بڼه وپالي .
همدارنګه قافيه وال شعر هم در واخله چي شاعر ته په کار دی چي د قافيي کلمي او د قافيي توري وپېژني لکه روی ، ردف ، قيد ، د خيل ، تاسيس ، وصل ، خروج ، مزيد او ناير .

ولي ,, روی ،، د قافيي اصلي غړ دی ځکه چي پرته له روي نه قافيه نه تړل کيږی . زه ډېر خله دغه شعر د مثال لپاره راوړم :

نه يي ملک نه يي لښکرنه يي ګنجونه
تر خانانو د ماغي دي ښکلي نجونه

پدغه بيت کي ,, ګنجونه ،، او ,,نجونه ،، د قافيي کلمي دي ,, ن ،، مقيده روي ,, ج ،، وصل ( و ) خروج ، ,, ن ،، مزيد ، ناير او قافيه موصله ده .
که چېرې روي حرکت ولري مطلقه روي او که حرکت ونه لري مقيده روي بلل کيږي .

که چېرې د قافيې په ترازو د ښاغلي نوزادي صاحب شعرونه وتلو لړوزيات ستونزې تر سترګو کيږي . د ساري په توګه دغه شعر په پام کې نيسو :

ځو چي دی توان قسمته ما ته ترخه وليکه
چي ظالم زړه دې يخ کړي هرهغه څه وليکه (۵۷مخ دا شعر تر پايه)

دلته زه نه غواړم چي د شعر په مينځپانګه وغږيږم خو په دغه شعر کې د قافيې کلمې دی ,, ترخه ، څه ، پيمانه ، بېلتانه ، تېره ، اره او شپه ،،

که چېرې دغه شعر د فونيميکي الفبا له مخې وڅېړو دوه ډوله اوازونه تر سترګو کيږي :

۱- ترخه ، څه ، بېلتانه ، تېره .

۲- پيمانه ، اره ، شپه .

ګورو چي د قافيې په کلمو کې د حرکتونو تغير او بدلون تر سترګو کيږي پدې حساب د قافيې د درې ډوله عيبونو په لړ کې يو هم د قافيې دغه عيب دی .

د دې ټولو خبرو سره سره بيا هم د نوزادي صاحب د شعرونو ځنې بېلګې دومره ښکلي او زړه راښکونکي دي چي په لوستلو يې د شعر مينه والو تنده ماتيږي او په ځانګړي ډول د کتاب د دوهمې برخې شعرونه يې د بېلګې په توګه يادولی شو .

د اوس لپاره همدومره .

شهسوار سنګروال
لندن

۲۱ -۱۰ -۲۰۰۸